# ناټو « NATO »

# او

# دناټو « NATO » پیژندنه !



## پنځمه برخه

# دشمالی اتلانتیک دتړون منشور!

دانټرنیټ دفارسی سرچینو څخه

ژباړونکی ؛ عزیزاحمد خوارمل

په نړیوال نظام کښې دبحث لاندی تړونونو دخصوصیاتو په هکله پوهه ډیر اړین دی ځکه موږ ډیر وخت ددی خبری ارزښت ته نه ګوروچې په یوخوندی اواقتصادی پلوه ثبات لرونکی چاپیریال کې کولای سو آزاد وګرځو. نودورځنی ژوند په ټولوبرخوکې امنیت زموږ دهوساینی دپاره خوراډیر مهم دی ،اولکه مخکې چې په دی اړه توضیح اوتشریح سو اوددی مهمی ټکی څیړنه زموږسره مرسته کوی چې « دشمالی اتلانتیک نظامی سازمان دنړیوال نظام دتړونونوپه کومه سطحه کې ځای لري ؟» اودسرلیک په نظرکې لرلوسره چې تړونونه په مختلفو ډولونه

اوپړاونه کښېږ څرنګه رامنځته سوی دی اوډپیدا ایښت اورامنځته کیدو په هکله باندی په دی اړه وویل سول ،نودشمالی اتلانتیک دتړون په هکله به ښه دا وي چې دبروکسیل تړون خپل دڅیړنۍ په لمړی سرکې دپیل ټکی وبولو.څرنګه چې په لمړی برخه کې وویل سو ،دغه تړون (دبروکسیل تړون) دناټودجوړیدوسرلیک کښل کیدی سی . دبروکسیل تړون یوګډ دفاعی سیستم شمیرل کیږی چې غړی هیوادونه برسیره پرنظامی اړیکواوچارو باندی واقتصادی اوفرهنګی اړیکوته هم پراختیاورکړ.

دبروکسیل دتړون ،دټولومهمواصولوڅخه لاندنی مسائل عبارت دی:

۱-دلویدیزی اروپا هیوادونه ، خپلې اړیکي دانساني حقونووفلسفي ته ،وانساني ارزښتونو

ته،دآزادیو ،اودډموکراسی داصولوڅخه دفاع او وقانون ته درنښت(احترام ) اعلانوی.

۲- په سوله ایزواصولوسره داختلافونوحله ول اودمنځه وړ دسولی اودنړیوالی امنیت نه ساتنه اودجګړی څخه مخنیوی داختلافونودحل دلاری دسرلیک په توګه منل کیدی سی.

۳- دتیری دسیاست په وړاندی مخامخ دریدل اوپه ټولیزه توګه باندی دفاع کول دتیری سیاست په وړاندی ،کیدی سی چې دهر هیواد دخوا څخه وی ،اعلانه وي.

۴-لاسلیک کوونکی هیوادونه داقتصادي مسائلو وارزښت ته ډېره پاملرنه وکړي اوپریکړه وکړي چې یودبل سره مرسته وکړي ،اوخپل فعالیتونه داروپایي دنوي اقتصادي ژوندډټینګولو اومرکزورکولودپاره په بنسټیزه توګه سره دغه نظامی تړون اعلانه وي.

دبروکسیل دتړون دجوړیدو راوروسته،غړي هیوادونه وپوهیدل چې دغه پیل نه سي کولای ځان دیو ډاډمن دفاعی دیوال په توګه دشوروي په وړاندی رامنځته کړی ځکه روسانو هغه

مهال کابو (۴) ځلورمیلیونه وجګړی ته تیار اوامادہ سربازان یې په خپل واک کې درلودل .
او(۲۵) پنځه ویشت لوي نظامي قطعات اوجزوتامونه یې دشوروي په بهر کې شتون درلود
اود(۲۰۰۰) شپږزروالوتکوپه ذریعی سره یې ملاتړکیدل،په داهسی حال کې چې دالمان
دتسلیمیدوپه وخت کې دلویدیز دپنځومیلیونو ځواکونوڅخه یوازی (۳۹۰) درسوه نهوی زره
امریکایي سربازان،(۴۹۰) څلورسوه نهوی زره تنه انګلیسی سربازان په (۱۴) نظامی
قطعاتواوجزوتامونوکښې د(۱۰۰۰) زروجګړه ایزو الوتکولخواچې داروپا په خاوره کې وروسته
تردوهمی نړیوالی جګړی څخه پاته سوی وه ملاتړ یې کیدل.

لویدیزاروپایی هیوادونه دخپل دغه کمزورتیا اودشوروي دګواښ په پوهیدلوسره،زیار
ویست ترڅودامریکا هیواد داروپا ودغه جبهی ته ورګډ کړی اودامریکا هیواددکورنی
مخالفتونودلیری کولوڅخه وروسته د«شمالی اتلانتیک» مشهوره دفاعی معاهده یې
د(۱۹۴۸)میلادی کال داکتوبرپه میاشت کې ومنل اوبلاخره د(۱۹۴۹) میلادی کال داپریل
پر(۴) څلرمه نیټه باندی (۱۲) دوولسو هیوادونه دبروکسیل دتړون پلویانو دغه تړون یې
د«شمالی اتلانتیک دتړون» دنوي نوم اونوي تړون سره اسناد یې لاسلیک کړاوپه (۱۹۴۹) م
کال داپریل دمیاشتی د(۲۴) څلرویشتمی نیټی څخه وروسته په کارواچول سول اوپه رسمیت
وپیژندل سو . دلمړي هیوادونودیوځای کیدونیټه :(۱-بیلجیم ۱۹۴۹-- فرانسه ۱۹۴۹--
ایتالیا۱۹۴۹- ایسلیند۱۹۴۹- ډنمارک ۱۹۴۹-لوکزامبورک ۱۹۴۹- هالنډ ۱۹۴۹- ناروي
۱۹۴۹-پرتګال ۱۹۴۹- انګلیستان ۱۹۴۹- کاناډا ۱۹۴۹- اودامریکامتحده ایالاتونه ۱۹۴۹.)
هرغړی هیواد دناټوپه سیاسی مقرکې چې په بروکسیل کې دبیلجیم په پلازمینه کښې دی یو
دایمی پلاوی لری ،دپلاوی مشری یې یو سفیر یا دهغه مربوطه هیواد لمړی جګپوری
دپیلوماتیک استازی چې عبارت د(سفیر ) څخه دی کوي اودمشوروا وپریکړوپه بهیرکې
دخپل هیواد استاری توب کوي.

دشمالی اتلانتیک شورا دناټوپه سازمان کې دپریکړودکولوترټولومهمه سیاسی مرجعه ده . داشورا په بیلابیلوکچوغونډی کوي اومشری یې دناټودسرمنشی پرغاړه دی چې دمهمومسلو

په اړه موافقی ته په رسیدوکې دشورادغړیوسره مرسته کوي . دناټوپه هره کمیټه کښې ټولی پریکړی دلړلیداونظرپه یووالی سره رامنځته کیږی ځکه نو دناټوپریکړه دټولوغړیودګډی ارادی څرګندونه ده . دملګرتیاووجوړه ول دخبراتروپیلول اومرسته دسوله ایزه اړیکواوژور

نږیوال پوهاوی دپاره مهم دی اوناټودغړیواوملګروهیوادونودپاره یوځانګری موقع برابره وی چې د ډاډ درامنځته کولواوپه اوږدمهال کې دجګړی دمخنیوی دپاره پرمهموامنیتی مسائلویودبل سره مشوره وکړي . دعملی مرستواوګڼ اړخیزو نوښتونودلاری ،هیوادونه په ګډه دنویوامنیتی ننګونوسره مخامخ دي .ددی نظامی تړون دشته والی فلسفه دیوی ډاډمنی امنیتی کمربندرامنځته کولواوراګرځول دلویدیزی دموکراسی په شااوخوا اودکمونیزم دزبرځواک اودهغه دملګروهیوادونومحاصره کیدلوځخه اصلی موخی وي اوهغه ملګری هیوادونه ،دا هغه (اقمار) وي چې بیا را وروسته دوارسا دتړون په څلورچوکاټه کې سره راغونډ سول.

دشمالی اتلانتیک دتړون دمتن ټول مطالب عبارت د(۱۴) څوارلسو مادو څخه دي چې هریو ددی غړیوهیوادونوڅخه دددی تړون ددغه متن اومندرجوموادوپرمنلو، رعایت کولو اوپه پرځای کولوکې مسؤولیت لري اوورته ژمن دی ،اودهغه دموخوپه ترسره کولوکې ګامونه اوچته وی اوددی موخوپربنسټ هوډونه او امتیازات یې خپل دلاسلیک دپاره دسولی اویا دجګړی پرمهال اویا دګواښ په حالت کې په نظرکې یې نیولی دي.

ددی تړون په سریزه کې داهسی لیکل سوی ده:

ددی تړون غړي یوبل ځل خپل وفاداری دملګروملتونودمنشوردموخواواصولوپه نسبت بیانوی اوهیله مند دي چې دنړی دټولوملتونواوهیوادونو سره دسولی په فضاکی ژوندوکړي

.ددی تړون غړي ددی غوښتونکی دي تر څودآزادیو ،دبشریت دګډ میراث اوتمدن څخه ،دفردی ازادیو اودقانون او دحکومت دواک څخه ساتنه اوملاتړکوي.

دشمالی اتلانتیک دتړون منشورپه ټولیز ډول سره دهیلواواصولوترڅنګ لکه په سوله کې ژوندکولودسولی اوامنیت ساتنه اونوراصول لکه دآزادی څخه ساتنه دګډمیراث اودخپلوملتونودتمدن څخه ملاتړچې دمردمسالاری ملاتړهم دځانه سره ولري،فردی آزادی اودقانون واکداری اوحکومت باید ومنی چې په خاص ډول سره دغه عمده فکتورونه څرګنده وي.

دتوجو وړ دا دی چې دناټوتړون که څه هم په (۱۹۴۹) میلادی کال داپریل پر(۴)څلرمه نیټه باندی دامریکا اودشوروی اتحادترمنځ دایدیالوژیک سیاسی اونظامی کړکیچ پرسر په هغه وخت کې د دووزبرځواکونویودبل په وړاندی دګواښونودمخنیوی دپاره دغه تړون رامنځته سومګر په هیڅ ډول سره امنیت یې دتک بعدی په توګه تعریف نکړ.ددی تړون غړي دااتلانتیک په سیمه کښې دثبات او سوله ایزه فضااودښه ژوندکولوغوښتونکی دي .دوی پریکړه یې کړیدی چې خپل ځواکونه دسولی ،امنیت اودګډی دفاع دساتنی دپاره سره یوځای کړي .

# دشمالی اتلانتیک دتړون تو پیر دنوروپخوانیو دفاعی تړونونوسره !

دشمالی اتلانتیک تړون دنورو تړونونوسره په پخوانی دفاعی مفهوم سره ډیرتوپیرلری.

لمړی - دغه تړون دپخوانیوتړونونوسره په توپیرلرلو یوسازمانی تړون دی .

دوهم - دشمالی اتلانتیک تړون نه داچې یوازی یوامنیتی اودفاع تړون وبلوځکه نوموړی تړون دنړدی مرستودپاره خصوصآ داقتصادی اړیکوپه رامنځته کیدوکې دغړیوهیوادونوپه منځ کې ډیر زیاریې ایستلی دی.

دریم - دشمالی اتلانتیک تړون دنوروپخوانیودفاعی تړونونو سره په توپیرکې اودهغوی خلاف دیوځانګړی هیواد اویا دنوروځانګړوهیوادونوپه وړاندی نه دی جوړسوی اونه دی رامنځته سویدی ./

(نوربیا ،په شپږمه برخه کې ادامه لري)

اخیځلیک :- دایسنا نیوز ځخه.